مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد

آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۷/۱۷

# غزل

ستـرګـو کې دې ست وینـم آشنا ولـې؟
بـیا دې و وې بـیـا دغـه ربښتیا ولـې؟

مړې وې شعري هڅې مې پـه ذهن کـې
بیا دې را ژونـدۍ کړې په خـندا ولـې؟

زه خو د زړه سـوي نــه ومـه څـله دې
لـور پـیـرزو دې وکـړلـه، بـیـا دا ولــې؟

تا په ډېر غضب چې را ته و وې ځــه
ســتـرګــو دې بـیـا وکـړه دا ادا ولــې؟

ما ته دې هـجـران چې عـادت شــوی و
کـړم دې خـپـل عـادت نـه را جـلا ولــې؟

ډير دې پـه دې کار بانــدې حيران کړمـه
بـیا چې شـوې پـیـښمانه له سـودا ولـې؟




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ